استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی ۱۷ اکتوبر، ۲۰۲۲

# د عوامو ادب

## په درو ژبو: پښتو، عربي، انګلیسي کي



لومړۍ څېړنه به د عوامو پر ادب یعني وګړنۍ ژبورۍ وي، د ملت د بداوت دوره داسي ده لکه د کوچنیوالي وخت، په دې دوره کي یې ادب سپېڅلی او ساده وي، شعور او عاطفې ته یې نژدې وي.

هر څوني چي یو ملت د تمدن او حضارت په پوړو کي لوړ خېژي، فکر یې لوړ خېژي، فکر یې پخېږي او د دنیا له مظاهرو سره اتصال مومي او فکر پکښي کوي، هم له دغه جهته د دغه ملت په ادب کي د سلیم فکر او ژور نظر اغېزې لیدلي کېږي او طبعاً د دوی ادب دوه رنګه مومي :

یوه ته راقي او لوړ ادب وایو، چي په خواصو اړه لري، بل عام ادب دئ چي د عوامو افکار څرګندوي.

هر څوني چي یو ملت لوړېږي، او عوام یې د خواصو په دله ګډېږي نو د دوی عام ادب هم د خاص

ادب پر خوا درومي، ځو په پای کي دواړه سره يو سي.

په لوړ ادب هر کله علمي افکار ګډيږي، او ژبه يي هم خپريږي، لهجه يي تهذيب او سموالی مومي، په هره پېړی کي آري او ستي لا ښه پسي تينګيږي.

اما د عوامو ادب تل د روايت له پلوه خپريږي، او تل په نوي توب او تحول لړېدو او ډېرېدو کي وي، هره ډله يي په خپل رنګ رنګوي او عصور يي سره اړوي را اړوي. دا ډول ادب تل بسيط عواطف او د انسان نفسي غرايز ښکاره کوي، د جمال او قوت او فضيلت خوا ته ميل لري. هغه وخت چي عرب د مدنيت او حضارت لوړي درجي ته ورسېدل، نو دوی هم دوه ډوله ادب درلود :

هسك او راقي ادب:

چي د دې ادب د تشکيل له پاره د دوی اشرافو له پخواني ادبه څخه مرسته وکړه او خپله ژبه يې په ښه ډول خوندي او د ثقافت او علومو برخي يې پکښي ګډي کړې، خو دا لوړ ادب په عربو کي په خواصو پوري اړه درلوده.

اما د عوامو ادب:

هغه وخت پيدا سو، چي عرب په نورو اقوامو ګډ سول، او ژبه يې هم ارګجه سوه.

د انګليسي ژبي ادب هم دوې خواوي درلودې، هغه وخت چي دوی مدني او د ثقافت خاوندان سول، نو انګلوسکسوني ژبه په لاتيني ګډه سوه، علوم او اداب يې ځانته وموندل، قوايد يې مرتب او خوا و شا يې تول شيان سم سول، او د يوه لوړ او مترقي ملت ژبه سوه.

اما په عربي او انګليسي کي د عوامو او خواصو د ادب انفصال، په دوه بېل ډوله وسو، او کيفيت يې هم سره بېل دئ:

د عربو عامي ادب د فصيح او بليغ ادب له خرابوالي څخه پيدا سو، اما په انګليسي کي فصيح او کره ادب د عامي ادب له لوړتيا څخه وزېږېده.

نو ځکه دغه دوه ملتونه د ادب له پلوه دوه ډوله دي، د لوړ او کښته ادب اړيکي يې هم سره بېل دي.

د عربو عامي ادب له خاص او فصيح ادبه ډېر ليري دئ، اما انګليسي عامي ادب له لوړ ادبه سره ښه اتصال لري او اړيکي يې ډېر سره تينګ او کلك دي. د لوړ ادب خاوندان تل عامي ادب ته په درنه سترګه ګوري، او فصيح ادب تل له عامي ادبه څخه ګټي اخلي، اساليب او صور يې تل غوره کوي، سندري او نغمې يې په ځان کي تحليل کوي او هم له دې لامله تل لوړ ادب له عامي ادبه څخه لويي لويي ګټي اخلي.

عامي ادب او فصيح ادب، که څه هم يو له بله د ژبي د سموالي او د تفکير او نظر له لامله توپير

سره لري، ډولونه يې هم سره بېل وي، خو بيا هم دا دواړه له يوې سرچينې څخه اوبه کېږي. چې هغه خو د انسان نفس دئ.

لوړ ادب د تمدن او علم او د مترقي ټولنو په صفاتو ښکلی وي، خو عامي ادب هم د صدق او ساده ګۍ او د فطرت د نژدېوالي صفتونه لري، چې دغه شيان د هر فن مرجع ګڼل کېږي.

د لوړ ادب الفاظ تل پر معانيو باندي غالب وي، انځورونه يې تر جوهر قوي وي، او تل د فطرت لمني ته د رجوع او د راتللو احتياج لري، او له عامي ادب څخه استفاده کوي او ورته اړ هم وي.

په انګليسي کي عامي ادب تل اعتبار درلود، لويو ادباوو او نوموړو ليکوالو به هم ځان اړ ورته ګاڼه، شکسپير، سپنسر، ملټون له عامي ادب څخه ډېر آثار غوره کړي او پخپلو ليکونو کي ځای ورکړی دئ. دوي له عامي ادب څخه خواږه الفاظ او تعابير راواخيستل او پخپلو لوړو ادبي او شعري آثارو يې ننه ايستل او هم له دې لامله د راقي ادب سټه او بنياد عامي ادب سو.

ډېرو خلکو د وګړو سندري سره راغونډي کړې او دغه مجموعې يې د شعراوو په لاس ورکړې، چې دوی په خپلو اشعارو کي تل له هغو څخه اخيستنه کوله او د نظم په اسلوب کي به يې تل هغه عامي سندري تر سترګو لاندي وې، تر دې ځايه چې دغه وګړنۍ سندري د اتلسم قرن په ابتداء کي د رومانسي ادبي نهضت سټې وې.

وروسته چې د مدنيت لاس د شعر ستوني ته ور ورسېده، د الفاظو قيود او تقاليدو يې لاسونه او پښې ټينګي ور وتړلې، دلته بيا خلك ملتفت سول او د متکلفو نظمو څخه يې مخ وګرزاوه، بيرته يې خپلي ملي سندري راواخيستې، او ډېرو اديبانو له هغو څخه د ادب مرغلري پخپلو خوږو اشعارو کي راټولي کړې.

د منځنيو پېړيو (قرون وسطی) وګړنۍ سندري داسي وې چې مضامين يې سحري او طلسمي او ځيني هم خراقي وه، او ځيني د تاريخ او خراقته يوه ګډوله وه. خو سره د دغه هم ټولي سندري د فطرت له ميني څخه ډکي وې او د ښکلو مناظرو ستاينه يې کوله. نو له دې جهته اديبانو له هغو څخه ښه ښه مضامين اقتباس کړل.

د سکاټلينډ اديبان په دغه مرحله کي تر ټولو دمخه وه، دوی له خپل عامي ادب څخه ډېري سندري راواخيستې، د شپنو او بزګرانو او سارانشينو څخه به يې د دوی ملي سندري راټولولې، د دوی کيسي او نکلونه به يې اروېدل، او د دې کار له پاره به يې تل سفرونه کول، الان رمزي، روبرټ برنز، والټر سکوټ هغه شعراء دي چې دوی خپل اشعار د فطرت په لمن کي وويل، د بزګرانو او شپنو په ډول يې سندري جوړي کړې.

روبرټ برنز پخپله هم یو فلاح سړی و، ده د فلاحت کارانو ژوندون پخپلو سندرو کي انځور کړ، اما والټر سکوټ چي د یوې لوړي کورنۍ سردار و د منځنیو پېړیو د سردارانو د اسانو د سپارلۍ نغمي یي ژوندۍ کړې. ده له عامیانه ادب سره دوني مینه درلوده چي په ټول سکاټلینډ کي پسي وګرځېده او له الماني ژبي څخه یې دغسي سندري ترجمه کړې او په دې ډول یې په ګرده اروپا کي شهرت وموند. په دغه ادبي فضا کي چي د فطرت له ړغه ډکه وه او د بساطت او رشتین شعور رڼاوي پر ځلېدې، ورډ سورټ، کولر ډج، شیلي، کیټس غوندي شعراء پسي راغله، دوی هم له هغه ادبه ا لهام واخیست، چي د عوامو په سندرو خوندور سوی و، نو ځکه د دوی اشعار او آثار هم ډېر خواږه او خوندور سول.

ورډ سورټ تر ټولو زیات د بساطت خوا ته ولاړی، او تل د سارانشینو او ساده خلکو سره ملګری و، د دوی الفاظ به یې کټ مټ پخپلو اشعارو کي راوړل، د ده "شعري سندري" نومی کتاب له دغسي نغمو څخه ډك دئ، چي د کولر ډج په ملګري یي راټولي کړې او په یوه مقدمه کي د خپل نوي ادب مسلك شرح کړ، چي د دوی د شعر آري برخي پر ملي سندرو او کیسو باندي ولاړي دي.

دې عامي ادب پخپله وروسته یوه نوې لار وموندله او هغه وخت چي په اجتماعي ژوندانه کي داخل سو نو یي د فصاحت خوا ته هم مخه کړه او د عوامو د ژوندانه او عقلیاتو او افکارو ترجماني یي د دوی پخپله الفاظو او محاورو په تحلیلي ډول وکړه او د دوی خطابي اسالیب یي ټول ژوندي کړل.

د هارډي په روایاتو او نکلو کي دغه روح ښه ښکاري، او دا څرګندوي چي عامي ادب څنګه د فصیح ادب سره ملګري وکړه، او په څه ډول دا دواړه سره نژدې سول؟

دا خو د انګلیسي حال و اوس به راسو عربي ته:

د عربو په ژبه کي د ښاروالو عوامو ادب ته هیچا په درنه سترګه نه کتل، لفظاً او معناً هر چا ځان څني ژغوره. عامي او سوقي الفاظ ډېر بد ورته ښکارېدل.

لکه والټر سکوټ چي د بزګرانو او سارایانو الفاظ او محاورات کټ مټ غوره کول او هري خوا ته به پسي ګرځېده، دغسي د عربو پوهان او ادباء هم تل په دښتو او بادیو کي ورك وه چي د ژبي فصیح کلام او اصیل اسالیب له هغو څخه زده کړي، د اعرابو اقوالو تل په مناظره او انشاء کي پاخه سندونه وه، دوی سوقي او بازاري تصاویر او معاني او الفاظ کورټ نه خوښول، بشار مشهور شاعر یي په دې بیتو سخت وکاږه چي د یوې مېرمني ستاینه یي په داسي ساده او بسیط ډول کړې وه :

ربـــــابه ربـــــــه البیت

تصب الخل في الزیت

لها عـــشر دجـــــــاجات

وديك حسن الصوت

دوى به ویل : چي داسي یو عامي موضوع او عامي تعبیر سوقي دئ او د "فصیح شعر" له پاره نه ښایي عربي شعر باید دروند وي او د مشرانو په ذکر او ستاینه ډك وي، نه د بازاریانو. هلته باید تل اتلان وستایل سي، او د قهرمانانو ږغږغه پکښي وي.

له دغه جهته نو عربي شاعر کورټ د خپل کلي خلك نه ستایي، او لکه انګلیسي شاعر ګولډ مست چي پخپل کتاب "پاته کلی" کي په ډېر حرارت او مینه د خپل کلي خلك او د دوی هدیرې ستایلي دي، عربي شاعر داسي نه کوي ځکه چي د شعر له پاره سوقي او عامي موضوع نه خوښوي.

د عربو نوموړي شاعران لکه ابو نواس، ابو تمام، کله کله د عوامو اقوال هم را اخلي، مګر دا ډېر نادر پېښېږي، ابن اثیر وایي :

چي ابو تمام خپله یوه ښه قصیده تر دې مسرۍ پوري راورسوله "و احسن من نور یفتقه الصبا" خو دوهمه مسرۍ نه ورتله او پکښي ودرېده، یوه ورځ تېرېده سایل پر ږغ کړه : "من بیاض عطایاکم في سواد مطالبنا" ابوتمام له دغه عامي کلامه ژر ګټه واخیسته او خپل هغه بیت یې داسي بشپېر کړ "بیاض العطا یا في سواد المطالب".

داسي مثالونه په عربي ادب کي ډېر لږ دي، عربو ادیبانو له عامي ادب څخه استفاده نه کوله، که څه هم عامي ادب ته عربي تر انګلیسي ډېره اړه وه، مګر عربو دغه کار د ژبي ورانی ګڼانه، هغه وخت چي مسعودي او ابن ندیم ځیني د عامي ادب کیسي لکه الف لیله او نوري ولیدلې نو دوی په سپکه ورته وکاته، او دغسي آثار یې د ادب په میدان کي نه منل، او نه یې د دغو لیکوالو کمال او مهارت ته تن ایښووه.

اما که د غور په سترګه ورته وګورو، د عربو وګړنی ادب تر فصیح ادب د موضوع او هم د فني ډولو له لامله ډېر بشپېر دئ، بلکي وګړنی ادب د شعور تعبیر په ښه ډول کوي او له هري خوا د ادب وظیفه په ښه توګه ادا کولای سي. حال دا چي فصیح ادب دا کار نه سي بشپړولای، د ټولو عربو مستقل ترجمان هم نه دئ. د عربي ذهن او عربي نفس شومه نه سو ورته ویلای او نه یې د عربو د ټولو افکارو نماینده ګڼلای سو، حال دا چي وګړنی ادب په دې لار کي تر لوړ ادب دمخه او موفق دئ.

نو د عربو وګړنی ادب چي په خیالي آثارو ډك او په ښو ښو کیسو ښکلی سوی دئ په اکثرو خواوو کي تر خاص ادب دمخه کېږي هم لا.

ځکه چي اجتماعي کيسې ډېري په وګړني ادب کي سته او په خاص ادب کي هيڅ نه ليدلي کېږي او هغه خيال چي شعراوو غوره کړی دئ او بحتري ډېر پکښې استاد دئ "کاذب خيال" دئ نو که د خاص ادب خاوندانو له وګړني ادبه څخه کيسې اخيستي وای او له عاميت څخه يې د تهذيب خوا ته بېولی او په سم فکر يې ښکلی کړی وای نو به دوی خپل ادب ته ډېر کومك رسولی وای او هم به يې بشپړ کړی وای.

د عربو وګړنی ادب ډېر اوزان او قوافي داسي لري چي په فصيح ادب کي هغه نسته، او خواصو تشه قصيده غوره کړېده، او پر دې محدود ډګر سره ګرځي راګرځي، اما که فصيح ادب له عامي ادب څخه هغه ډول ډول اوزان او قوافي اخيستي وای، لمن به يې په پراخه سوې وای. خو ادباوو وګړني ادب ته په سپکه سترګه وکتل، او ټولي ښېګڼي يې پرېښووې، فصيح ادب تل د پخوانو آثارو پر لار ولاړ او ځان يې له هر راز تحوله وساته او عربو هم د فصيح ادب په نامه د عوامو د ژبې ښېګڼي پرېښووې او له دغه خنده کورټ نه واته. نو ځکه فصيح ادب په تقليدي پېړي وتاړه سو، پر خپل قديم وضعيت کلك پاته سو هيڅ تجديد له بلي خوا نه ورته راغی، يوې خوا ته وګړنی ادب وچ کلك پاته سو بلي خوا ته خاص ادب.

ما د اروپا وګړو د صليبي جګړو څخه د عربو د عامي ادب ښېګڼي وليدلي، د دوی ملي سندري او کيسې يې ټولي کړې او پخپلو ژبو يې ترجمه کړلي تر دې ځايه چي د اروپا په رومانسي ادبي مسلك کې لوی اثر کړی دئ.

لنډې دا چې، د عربو وګړنی ادب تل د جامعې د خيال نماينده دئ له رشتيني شعوره ډك دئ او دخيال هغه نازکی لري چي په فصيح ادب کي نه ليدل کېږي، که خاص ادب له وګړني ادب سره ګډ سوی وای نو به يقيناً يو بشپړ ادب ځني جوړ سوی وای.

***

تر دې ځايه د عربي او انګليسي وګړني ادب څېړنه لنډه لنډه وسوه، اوس غواړم چي لږ څه د پښتو وګړني ادب ته هم کتنه وسي:

پښتو ژبه هم دوه ډوله ادب لري: يو خو شفاهي او وګړنی ادب دئ چي له پخوا څخه ځيني لنډی، سندري، بدلي، نارې د پښتنو په خولو کي لوېدلي او معنعني تر اوسه پوري را رسېدلي دي او يا يې اوس ملي شاعران جوړوي، او په ملت کي رواج دي.

دوهم ډول کتابي او ليك سوی ادب دئ چي دغه ادب کټ مټ لکه عربي خاص ادب غوندي جامد او تقليدي شی دئ او ادباوو له پخوا څخه پر يوه خاص حالت باندي په يوه مخصوصه جوله ساتلی دئ.

salamwatanam@gmail.com

که دې خبري ته ځير سو چي:

ادب د ملت له روحه نماينده ګي کوي، نو په ټينګه ويلای سو چي زموږ کتابي او ليکلی ادب دا کار نه سي کولای، او ډېر عناصر پکښي داخل دي چي له موږه پردي لا هم دي.

د پښتنو عواطف، احساسات، شعوري خواص، روحي کوايف، اجتماعي ښېګڼي ټول په شفاهي او وګړني ادب کي سته چي زموږ پخواني ليکوال ادباء هم ډېر له دغه ادبه ليري دي. د وګړني ادب تعابير مو سپېڅلي او ساده او بسيط او شعوري او رشتيني دي اما د کتاب او ليکلي ادب ژبه بېله ده، د ليك ښتنان تل د نورو عروض او اوزان پالي او تقليد يې کوي، مګر وګړني اديبان او ملي شاعران ځانته دنيا لري، شعر يې بېل رنګ لري، سوچه اوزان او مخصوص عروض لري، هغه معاني او تصاوير او افکار چي د دوی په اشعارو کي راځي هم هسي جولې لري چي کټ مټ د پښتنو له روحه زيږېدلي دي.

په دې ډول نو د پښتو وګړنی ادب په هره خوا کي هم د ملي او قومي لامله هم د سوچه توب او سپېڅلوالي له پلوه پر کتابي ادب غوره او غښتلی دئ.

تر اوسه چي څه سوي دي تېر سول، او څکه چي د پښتو ادب د نوي تشکيل وخت لا اوس يا وروسته راتلونکی دئ، نو ښايي چي زموږ شاعران او ليکوال تل د ژبي له وګړني ادبه څخه استفادې وکړي.

د پښتنو پخواني ادب ته چي ګورو : په هغه کي هم ډېره برخه داسي ده چي کټ مټ د وګړني ادب روح پکښي موندل کيږي، مثلاً دا تعبير:

"که سپيني سپيني، سپوږميه! سپيني

سلام مي يوسه، د يار تر مښي"

قح وګړنی تعبير دئ او د پښتو له خپله روحه سره هم سم دئ. په پټه خزانه کي د اسماعيل سړبني يوه سندره ده، چي خربښون ته داسي خطاب کوي :

"که وروره، وروره ! خربښون وروره!"

يا په بل ځای کي د ملکيار شعر دئ :

"که روده، روده! د ترنك روده!"

دغسي د پښتنو په يوه ملي کيسه کي داسي ناره سته:

"که پاخه دي، د کلابست انګور پاخه دي"

دا ډول تعابير زموږ قح او سوچه ملي تعابير دي، داسي ښکاري، چي پخوانو اديبانو له وګړنی ژبوری سره پخه علاقه درلوده، مګر وروسته چي مقلدين شعراء راغله، دوی ته دي خدای بخښنه وکړي، د

ادب رنګ يې واړاوه، خو بيا هم ځيني اساتيد لکه :رحمان، خوشحال، پيرمحمد سته، چي د دوی کلام د وګړني ادب له مثاله رڼا اخلي، هغه سلاست او بساطت او د شعور صدق چي په وګړني ادب کي سته، د دوی په کتابي اشعارو کي هم ليدل کيږي، او يو مهم علت چي دوی يې په ادبي دنيا کي برياليي کړي دي، هم دغه دئ :

که رحمان په عاشقی مـــلامت کيږم     ما په سترګو قبول کړی دا پيغور دئ

دا تعبير سوچه ملي دئ، پيغور پر سترګو منل هم د وګړني ادب ښخه يو ښکلی تعبير دئ.

پښتانه پخپله ژبه هسي خواږه اصطلاحات او مخصوص اوزان او بحور لري چي که د ادب په ارته اورشو کي ګډ سي، د اديب له پاره به ډېر غنيمت وي. دغسي زموږ ملي کيسي او نکلونه هسي خواږه او د واقعيت په ښېګڼو ښکلي دي، چي ادباء ډېري استفادې ځني کولای سي.

نو لکه وګړنی ادب چي پخوا شعراوو ته يوه رڼه ډېوه وه، دغسي هم بويه چي اوس په درنه سترګه ورته وګورو، او تل ادبي ګټي ځني واخلو.

کابل مجله، ۱۳۲۳ ش کال، ٦ ګڼه، ۱-٥ مخونه.